دکتور فاروق اعظم ۲۰۱۲/۰۱/۳۰

# په افغانستان کې د تلپاتي او دوامدارې سولې د راوستلو
## او په سیمه کې د اوږدمهاله ثبات لپاره افغاني نوښت (ابتکار)

له افغانستان څخه د امریکایي عسکرو وتل به د ۲۰۱۱ میلادی کال په جولای کې پیل او د اعلان سوی پلان سره سم باید په ۲۰۱۴ کال کې بشپړ شي. خو لا هم په افغانستان کې دیوې تلپاتي سولې هیلې ډیرې مراوې دي او د افغانستان سوله ایز راتلونکی همدومره مبهم او لیرې ښکاري لکه څومره چې په ۲۰۰۱ کال کې په افغان خاوره باندې د ناټو د لومړني عسکر دپلي کیدو پرمهال وو.

په افغانستان کې د تلپاتي سولې لپاره یومهم جزء افغاني عنصر دی چې متأسفانه له اوله تردې مهاله له صحنې څخه په ناوړه ډول غایب دی. د افغانستان د سولې په پروسه کې د افغاني عنصر شاملیدو ته عاجله اړتیا او فعال نقش ته یې موقع ورکول ډیر ضرور دی. دغه نقش هغه نوښت (ابتکار) رامنځته کوی کوم چې په افغانستان کې د تلپاتي او دوامدارې سولې دراوستلو او په سیمه کې د اوږدمهاله ثبات لپاره د افغانستان د سوله ایز بدلون تولني وړاندې کړی دی. دا تولنه د مخورو او بې طرفه افغانانو لخوا څه دپاسه یو کال دمخه رامنځ ته شوه ترڅو دافغاني قضیې لپاره افغاني حل ولټوي.

د افغانستان سوله ایز بدلون د تولني ستراتیژي، په سیمه کی د امریکا د متحده آیالاتو حضور په غور څاري او ددغه ستراتیژي په بریالی پلي کیدو سره په حقیقت کی د نړۍ په دغه برخه کی د امریکا رول او کردار ته د اشغالګر څخه د بیزنس پارتنر موقف ته یو نوی او مثبت تغییر ورکوي.

متحده ایالاتو په ۲۰۰۱ میلادي کال کې په افغانستان باندې پداسي حال کې برید وکړ چې نه روښانه سیاسي اهداف او نه لازم چمتووالی یي درلود. د یرغل په لومړیو کې، په طالبانو باندې چټک نظامي بریالیتوب امریکایان په ځان غره کړل. د بون تړون په حقیقت کې د فاتحینو سوله وه چې د واشنګتن افغاني متحدینو پکې ګډون درلود. متحده ایالاتو د افغانانو او په ځانګړي ډول د پښتنو له کلتور او تاریخ څخه چې د هیواد اکثریت جوړوي اوپه بون کې منزوي شوي وو، لږ پوهه او فهم درلود. د پښتنو تاریخ پدې شاهد دی چې د بهرنیو یرغلګرو سره دوی سخت مقاومت کړیدی. متحده ایالاتو د روسانو د یرغل په وړاندې د افغانانو د مقاومت ملاتړ وکړ، مګر د روسانو له وتلو وروسته یې سملاسي افغانستان ته شا کړه. دغه کار د کورنیو جګړو او د هغو په نتیجه کې د یو لړ نورو ناخوالو د منځته راتلو سبب شو.

اوس، له افغانستان څخه د متحده ایالاتو د ځواکونو وتل په څو دلایلو حتمي دي؛ یو دلیل یې دا حقیقت دی چې د بهرنیو فوجونو په وړاندې مسلح مقاومت اوس ملی بڼه غوره کړی او متحده ایالات نشي کولای ددغه ورځ په ورځ زیاتیدونکی مقاومت د ځپلو په منظور د څو راتلونکو لسیزو لپاره افغانستان ته نور عسکر واستوي او د اوږدې مودې لپاره په زیاته پیمانه مالي منابع ورته تخصیص کړي. د ناټو غړي هیوادونه هم نور دېته زړونه نه ښه کوي چې افغانستان ته خپل زیات عسکر او منابع ولیږي. بل داچې، اوسنی افغان جګړه دا خطر له ځانه سره لري چې کرار کرار به دا جګړه د امریکائي جګړې شکل ځان ته غوره کړي او تول بار به یې یوازی د امریکایانو پرغاړه وي. پداسي حال کې چې تراوسه امریکا ادعا کوي چې دا د تروریزم په وړاندې نړیواله جګړه ده. سربیره پردغو تولو، افغان جګړې اوس خپله د ناټو تړون و موجودیت ته ستر ګواښ متوجه کړیدی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په عمومي صورت دافغانستان له اوسني بحران څخه د ناټو او په ځانګړي ډول امریکا ته د وتلو آسانه لاره نه ترسترګو کیږي. تراوسه د طالبانو سره د مذکراتو لپاره د متحده ایالاتو د واضح او روښانه موقف او تعهد څرک لا نه ښکاري.

د افغانستان د ګډوډۍ یوه لویه برخه داده چې متحده ایالاتو د لسو کالو راهیسي پر جنګسالارانو، دبشرحقوقو په ناقضینو، فاسدو دولتي مامورینو او د مخدره موادو پر قاچاقبرانو تکیه کړیده. متحده ایالاتو فکرکاوه چې دا اشخاص دخپلو ټولنو نماینده ګي کوي او کولای شي چې خپل ولسونه د متحده ایالاتو د ګټو د خوندیتوب لپاره وکاروي. دا اټکل ناسم راوخوت او په کلکه یې په افغانستان کې د متحده ایالاتو هڅې زیانمنې کړې او په دقیق ډول یې د افغانانو هغه هیلې له منځه یووړې چې دیوه سوله ایز او با ثباته افغانستان لپاره یې له نړیوالي ټولنې څخه درلودې. د امریکایانو ستره غلطي دا وه چې د بن تر کنفرانس وروسته یې د جنګسالارانو ملاتړ ته دوام ورکړ. داسې ونشوه چې وسلې ترې واخیستل شي او ورته وویل شي چې که سیاست کوئ نو له هر ډول ملیشو پرته به یې کوئ. د امریکایانو بله غلطي داوه چې اداري بنسټ لکه سیاسي ادارې او قانوني ادارې یې رامنځته نکړې بلکه ټوله تکیه یې یوازې پر افرادو وکړه او هغه یې نور هم چاغ کړل.

ددې ترڅنګ، افغان ملي اردو تراوسه لا هم د قومي او تنظیمي اردو بڼه لري. دغه اردو، دافغانستان، د هیواد د اساسي قانون او ولسمشر په نسبت خپلو تنظیمي او قومي زورواکه مشرانو ته وفاداره دی. افغان اردو د جګړې لپاره ایدیولوژي، هدف او انګیزه نلري او د معاش، رشوت او زورواکې لپاره جنګیږي. د افغان ملي اردو د شمیر زیاتوالي او ښه تجهیز ددې سبب قطعا نشي کیدای چې دغه اردو دا وړتیا پیدا کړي چې له ۲۰۱۴ کال وروسته دهیواد بشپړ امنیتي مسولیت سمبال کړي. د افغان ملي اردو څخه لږه هیله کیږي چې د متحده ایالاتو له فزیکي نظامي مرستې پرته به په مستقله توګه د طالبانو په وړاندې د دولت دفاع او ساتنه وکړای شي. همداراز، په کابل کې د حکومت په ټولو سطحو کې له فساد څخه جنګسالاران او بغاوت تغذیه کیږي. حقیقت دادی چې که څه هم د روانو هڅو په پایله کې ممکن یو ډول سوله او نسبي ثبات د سراب په شکل تر سترګو شي خو دکابل د فاسدې ادارې همداسې داوم به یو په بل پسې بحرانونه زیږوي او دیو بل ډول بغاوت او پاڅون سبب به شي.

د جګړې په ډګر کې تراوسه کوم لوی بریالیتوب ندی ترلاسه شوی. تقریبا نیم میلیون افغان او ناټو ځواکونه چې په ټولو عصري وسائلو مجهز دي، پدې ندي توانیدلي چې مقاومت له منځه یوسي. بلکه برعکس، مسلحو مخالفینو خپل نفوذ زیات کړیدی. تر دوو کالو وړاندې د ناټو ماهرینو فکرکاوه چې طالبان یوازې په هغو سیمو پورې محدود دي چې اکثریت یې پښتانه دي خو اوس طالبان د هیواد په هغو سیمو کی هم فعال دي چیرې چې پښتانه اکثریت ندي. طالبان اوس د مقاومت په یوه ملي سرتاسري تحریک بدل شویدي. همداراز، تر دوو کالو وړاندې پورې یوشمیر خلکو فکر کاوه چې ناټو د افغانستان د مرستې لپاره دلته راغلي ده، مګر نن دا شمیر ډیر کم دی. اوس ولسمشر او ډیر لوړ پوري افغان مامورین دناټو عزائموته په شک ګوري.

دمتحده ایالاتو او کرزي اړیکي په زیاتیدونکي توګه مخ په خرابیدو دي او د ښه کیدو هیله یې نشته. امریکایان باور لري چې کرزی د خپل هیواد لپاره روښانه تصویر نلري، یو با اعتماده ستراتیژیک همکار ندی، د حکومتدارۍ د ښه والي لپاره یې کافي هڅې ندي کړې او له یوه بحران وروسته بل بحران زیږوي. له بله پلوه، کرزی په ښکاره ډول د ناټو په غړیو هیوادونو په ځانګړي ډول پر امریکا او بریتانیا باندې د فساد د خپرولو، مخدره موادو د کاروبار د تشویقولو او دمرکزي حکومت د کمزوري کولو له امله نیوکې کوي. نوموړي پر ناټو د یو اشغالګر ځواک او په افغانستان او سیمه کې د بې ثباتۍ د یوې لویې سرچینې په توګه ټاپه وهي. کرزی، امریکا تورنوي چې په افغانستان کې یوازې خپلې ګټې پالي، د ریاست جمهوري مقام توهینوي او دده وزیران او لوړپوړي چارواکي زړه توري کوي. نوموړی په ناټو تور پورې کوي چې قومي او نژادي درزونه رامنځته کوي او دده له حکومت سره موازي حکومتونه تقویه کوي. کرزی باور لري چې د مسلح مقاومت او تروریزم پر ضد د ناټو ستراتیژۍ له ناکامۍ سره مخ ده او دا یې روښانه کړیده چې نور په متحده ایالاتو، دهغوي په استازو او مشورو یې باور نلري.

ځینې امریکایي ماهرین فکر کوي چې افغانستان ته د امریکا په مشرۍ د ناټو د پیسو او عسکرو د دوامداره استولو تعهد عملا ممکن ندی او نه هم پدې برخه کې ددوی قرباني نورې دکوم برحقه دلیل لپاره دي. متحده ایالات په افغانستان کې سل زره عسکر لري او د میاشتې تر لس بیلیون ډالرو زیاتې پیسې لګوي. ددې نه علاوه، هغه ۲۰ بیلیونه ډالر چې په تیرو لسو کالو کې ظاهرا د افغانستان په بیارغونه کی مصرف شوېدي په واقعیت کې ډیر کم څه پرې ترلاسه شویدي. د دلایلو لیست اوږد دی خو څو یې دادي:


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- په افغان ملت باندې لس کاله د فاسدو چارواکو، د مخدره موادو د قاچاقبرانو او د بشري حقوق د ناقضینو حاکمول ددې سبب شول چې ناټو په افغانستان کې د دیموکراسۍ بریالیتوب له ماتې سره مخ کړي. د ولسمشرۍ او ولسي جرګې دتیرو انتخاباتو له شرم څخه ډک حالت، خپله ددې ادعا یو ښکاره ثبوت دی.
- د ګوانتانامو، بګرام، کندهار او د متحده ایالاتو په نورو پټو او ښکاره زندانونو، چې افغانان پکښې بندیان دي، انسانیت شرمیږي. ددغو زندانونو موجودیت د نړۍ د ټولو قوانینو په خلاف دی او د متحده ایالاتو د بشرد حقوقو ریکارډ او تاریخ یې ډیر سخت زیانمن او بدنام کړیدی.
- د جورج بوش او ټوني بلیر د غوړو او لویو وعدو سره سره بیا هم په افغانستان کې په تیرو لسو کلونو کې د بیا رغوني او جوړوني لویې پروژې عملي نه شوې. ولسمشر کرزي په ښکاره ډول پر نړیوالې ټولنه ددې پاتې راتلو له امله نیوکه کړیده. د متحده ایالاتو عمراني پروګرامونو زموږ د ملي اقتصاد په تقویه کولو کې ډیر لږ بریالیتوب درلودلی دی. کرزي پر نړیواله ټولنه تور لګولی چې د مرستو پروګرامونو یې دافغانستان خلک په نورو پورې تړلي او طفیلي یې عادت کړیدي.
- افغانانو فکر کاوه چې د متحده ایالاتو په مشرۍ د ناټو ځواکونه به په افغانستان کې د ګاونډیو هیوادونو مداخلې بندې کړي. دا مداخلې نه یوازې بندې نه شوې، بلکه لا پسې زیاتې او تشویق شوې. دا ګاونډیان چې یووخت د طالبانو دنظام په راپرزولو کې د متحده ایالاتو ملګري او متحدین وه، اوس په سیمه کې د امریکا د حضور په خلاف کار کوي. دوی غواړي چې د متحده ایالاتو په مشرۍ د ناټو ځواکونه له افغانستان څخه په شرمیدلي حالت ووزي.

عیني واقعیتونه ښیي چې متحده ایالات او ناټو نشي کولای روانه جګړه د جنګ او زور له لارې وګټي. دېته اړتیا ده چې یو سیاسي حل رامنځته شي. که څه هم متحده ایالات په تاریخی لحاظ د خپلو دښمنانو سره خبرې کول سخت ګڼي خو دا اوس هغه یوازنی څه دی چې پاڅون او مقاومت پرې پای ته رسیدای شي.

اوس لاهم دمتحده ایالاتو او ناټو لپاره یو فرصت شته چې مثبتې پایلې ترلاسه کړي او افغان ماموریت د احتمالي شرمیدلي حالت نه پرته راونغاړي. ددې پرځای چې د نظامي برلاسۍ له لارې د حالاتو د سمیدو بې ثمره او بې نتیجې هڅې وشي، متحده ایالات او متحدین یې باید پر یو سیاسي حل تمرکز وکړي. ددې معنی داده چې باید له طالبانو سره کیني. مهمه نده چې دا به دوی ته څومره بې خونده یا بدخونده وي بلکه مهمه داده چې متحده ایالات باید افغانستان د یوې روښانه اوښې محاسبه شوې ستراتیژۍ له مخې پریږدي. یو خراب حالت شاته پریښودل به نه یوازې افغانان او ددوی ګاونډیان زیانمن کړي، بلکه غرب به هم متضرر کړي. داسې حالت به متحده ایالات مجبور کړي چې د خپلې شاته پرې ایښې خرابۍ او چټلۍ د پاکولو لپاره یو ځل بیا افغانستان ته راشي چې په هغه صورت کې باید تراوس وخت زیات قیمت تادیه کړي کوم چې متحده ایالات به یې مکن وس ونلري.

په افغانستان کې دائمي سوله او دوامداره ثبات او د هغو په وړاندې پرته لاره د متحده ایالاتو روښانه ستراتیژۍ غواړي چې له مخې یې د افغانستان او سیمې امنیت خوندي شي. دا به د منځنۍ ختیځ د روان ولسی پاڅونونو په تناظر کی د امریکا د متحده ایالاتو په وړاندې پراته مشکلات هم تر ډیره حده کم کړي او په دې ترتیب، په بریالیتوب سره زموږ د وړاندې شوي ستراتیژۍ تطبیق به نه یوازې موږ او سیمې ته ګټه ورسوي بلکه د نړۍ پدې برخه کې به د متحده ایالاتو و رول ته هم یو نوی او مثبت تعریف ورکړي. ددې کار د ترسره کولو لپاره دېته اړتیا ده چې په کابل کې یو فعال او د اعتماد وړ حکومت وجود ولري کوم چې باید له ۲۰۱۴ میلادي کال وروسته په هیواد کې دننه امنیت ټینګ او ورڅخه دفاع وکړای شي. که متحده ایالات غواړي چې همداسې وشي، نو باید د ۲۰۱۱ څخه تر ۲۰۱۴ پورې د انتقال ددورې په موده کی ددغه وړاندې شوي ستراتیژۍ د عملي کیدو په لور کوټلي ګامونه واخلي.

دمتحده ایالاتو ځمکني قوماندانان پدې باوردي چې عملیاتويي طالبان کمزوري کړیدي او دې نظامي فشار د سولې د خبرو او مذاکراتو لپاره فرصتونه رامنځته کړیدي. که څه هم پردغه باور جدي شک دی، خو سولې ته تحرک ورکولای شي. متحده ایالات په زیاتیدونکي ډول پدې اعتراف کوي چې طالبان د افغاني بحران یوه مهمه برخه ده او دوی ته په اهمیت قایلیږي. دا پخپله داسې فرصت رامنځته کوي چې په هیواد کې دننه یونوی او پراخ بنسټه جوړجاړی رامنځته شي. <u>موږ پدې باور یو چې په افغانستان کې یوه انتقالي حکومت ته عاجله او جدي اړتیا ده.</u> دا


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دافغانستان د سوله ایز بدلون د ټولني د وړاندیز او حل لارې بنسټ جوړوي چي لاره به یو فعال حکومت ته هواره کړي او په افغانستان او سیمه کې به دوامداره او تلپاتې سوله تضمین کړي.

له بله پلوه طالبان هم دېته اړتیا لري چي د نړیوالي ټولني ټولني سره پخلا شي. طالبان باید پدې یوه شي چي:

- د هر جنګ پای خبري او مذاکرات دي او د افغانستان اوسنی جګړه هم مستثنی نده. دافغانستان دسوله ایز بدلون ټولنه یو مشخص پروګرام جوړکړيدي چي پرمټ به یې طالبان پدې قانع کړي چي معنی لرونکي مذاکراتو ته حاضرشي.

دوی باید پدې هم مطمین کړل شي چي:

- ناټو او غرب پدې اعتراف کوي چي افغانستان ستونزه د طالبانو له فعال حضور او شرکت پرته نشي حل کیدای.
- طالبان کولای شي له متحده ایالاتو سره په خوندي او آبرومندانه خروج کي مرسته وکړي.
- متحده ایالات حاضر دی چي:
  1. د طالبانو نومونه له تورلیسته وباسي
  2. ددوی په سرونو پرتې جایزې لغو کړي
  3. د ښه نیت په توګه د مذاکراتو د پیل لپاره ددوی بندیان خوشي کړي
- د سولې د یوه جوړجاړي په اړه مذاکرات به د طالبانو انځور او په افغانستان کي دننه او بهر ددوی موقف ښه کړي.
- دا د طالبانو ملي او دیني مسولیت او رسالت دی چي مذاکرات وکړي.
- مذاکرات د طالبانو لپاره له دې خونړي جنګ څخه د وتلو یوه ښه ستراتیژي ده ځکه چي دوی هم نشي کولای ترابده دغه جګړې ته دوام ورکړي.
- له ناټو سره د طالبانو لوی مشکل په افغانستان کی دبهرنیو ځواکونو شتون دی. د بهرنیو ځواکونو دوتلو پروسه کولای شي طالبان د مذاکراتو پروسې ته را کش کړي.

دافغانستان دسوله ایز بدلون د ټولني وړاندیز، د افغانستان دسولې نظریې ته ترهغه په ژوره سترګه ګوري کومې ته چي ځینی همدا اوس ګوري. مونږ باور لرو چي دیوه افغاني حل پرته به نړیواله ټولنه هغه له غمیزو ډکه تیروتنه بیا تکرار کړي چي له افغانستان څخه د روسانو تروتلو وروسته او یا یې په بون کې کړېوه. مذاکرات باید د ټولو خواوو لپاره د جنګ څخه د وتلو په یوه آبرومنده ستراتیژۍ بدل شي چي هغه به پخپل وار په افغانستان کي د تلپاتې سولې او ثبات تضمین کوي.

**د کابل د رژیم او د طالبانو ترمنځ د قدرت د ویش د وړاندیز ستونزي، چی ځینی یې د حل د یوې لارې په ډول وړاندي کوي**

موږ د جنګي ډلو ترمنځ د واک د ویش د فرضیې ترشا د تاریخ په شاهدي سره جدي خطرات ګورو. دغه ډول حل د بهرني قواؤ د آبرومنده وتلو، د قدرت د سالم انتقال او په هیواد کی د تلپاتې سولې لپاره تهدید دی او سمدلاسه لاندې مشکلات هم پیدا کوي:

- د واک شریکول به د امریکا لخوا د طالبانو د رژیم د راپرزولو د مشروعیت منطق تر جدي پوښتني لاندې راولي. ځیني سخت دریځه، محافظه کاره او مذهبي امریکایان شاید ددغه ډول حل مخالفت وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

- دافغان حکومت لپاره به د واک شریکول پدې معنی وي چې په تیرو لسو کلونو کې دوی د بلچا ډول ته نخیدل، په غلطه یې خپلو افغانانو ورونو (طالبانو) ته د بل په اشاره تروریستان ویل او بیځایه د بل لپاره یې خپل ورونه او ځانونه وژل.

- د طالبانو لپاره به په واک کې شریکیدل ممکن د هغوی د صفوفو په ځینو کړیو کې داسې تعبیر شي چې ددوی مشران له خپلې نظریې او د جهاد د منطق څخه لاس اخیستی او پسله ډېرو وینو توئیدو یې د امریکا د ګوډاګیانو سره ګډ حکومت جوړ کړ.

- د واک شراکت به افغان حکومت، طالبان او ناټو د افغانانو په وړاندې ډېر سپک معرفي کړي ځکه چې دوی به دا مشروعه پوښتنه وکړي چې که دوی اوس یوله بل سره کیني او ستونزې سره حل کوي نو دا کار یې څو کاله مخکې هم کولای شو. دا دومره وینې توئیدل او بربادي د چا او څه لپاره؟ د پرتو ستونزو د هوارې، د ټولو خواؤ د سپکاوي دمخنیوي او ددې لپاره چې د هغو جنګي ډلو د مخالفت مخنیوی وشي چې د واک شریکول نه مني او کیدای شي د سولې له هرډول توافق څخه ووزي، د افغانستان د سوله ایز بدلون ټولني د یوې معیني انتقالي دورې لپاره یو جامع حل او مفصله طرحه ترتیب او وړاندې کړیده ترڅو د درو لسیزو سیاسي بزکشیو دورې پرمځکه کښیني، فضاء صافه او خلک سره ووینې او په یوه آرامه او صافه فضاء کې افغانان د خپل مستقبل لپاره فکر او کار وکړي.

- اوسنی افغان حکومت چې د جنګسالارانو، د بشري حقوق د ناقضینو، د فاسدو اداري مامورینو او د مخدره موادو د قاچاقبرانو په کنترول کې دی، هم د زړه له کومې سوله نه غواړي. متحده ایالاتو او د ناټو غړیو هیوادونو له دغو عناصرو څخه د خپلو موخو لپاره کار واخیست، خو دغو عناصرو هم په تیرو لسوکلونو کې د خپلو شخصي، ګوندي، نژادي او سمتي ګټو لپاره له متحده ایالاتو او ناټو څخه په بریالیتوب ګټه اوچته کړه. دغه مافیائي کړی غواړي چې خپل دغه ماه عسل ته ترڅو چې کولای شي ادامه ورکړي. دغو طفیلي او مفت خورو عناطرو له بې حصره واک څخه خوند واخیست او د ناټو د غړیو هیوادو بې دریغه پیسې یې پخپلو شخصي جیبو کې واچولې. دوی نه غواړي چې د سولې په راتګ سره دغه بې حصره واک او بیشمیره پیسې له لاسه ورکړي.

- د جګړې دوام دغو مفت خورو ته نه یوازې د واک او پیسو د غصب مجال ورکړي او دسولې او د یوه سم نظام د منځته راتلو مخه یې نیولیده بلکه د جنګي جنایاتو په جرم یې له عدلي تعقیب او مجازات څخه هم خلاص کړیدي.

- دسولې عالي شورا اوسمهال درې متضادې دندې پرمخ بیایي: (الف) له طالبانو سره د مذاکراتو لپاره د افغان دولت د آدرس او ممثل رول لوبوي. (ب) د غولیدلي طالبانو د جذب و جلب دنده یې په غاړه ده. (ج) د مسلحو مخالفینو سره روغه جوړه پرمخ بیایي. د سولې د عالي شورا لویه ستونزه ددې شورا پراخ خیالي اهدف دي. هرڅوک پوهیږي چې دا شورا د سولې په منظور د منځګړیتوب رول نشي لوبولاي دا ځکه چې دا شورى خپله د جنګ طرف دی. بیشکه دا شورى د طالبانو سره د مذاکراتو لپاره د افغان حکومت آدرس کیدای شی. یعني د حکومت ممثل دی خو منځګړی نشي کیدای. همدا علت دی چې د سولې عالي شورا دهغو طالبانو په موندلو نده توانیدلې چې باید ورسره د سولې او روغې جوړې لپاره خبرې وشي. تردې مهاله دوی ندي توانیدلي چې د طالبانو له کوم عالي رتبه مشر سره خبرې وکړي، هرڅه چې تراوسه شویدي، په حقیقت کې د نا منظمو وړو ګروپونو سره ترسره شویدي. حتی ددې شورا د ادغام مجدد پروګرام هم له ماتې سره مخ دی، ځکه کوم کسان چې تردې مهاله تسلیم شویدي، له سره طالبان نه وو، بلکه ددې لپاره چې د حکومت لخوا اعلان شوي امتیازات ترلاسه کړي، یو شمیر عادي افراد پدغه پروسه کې ورګډ شول. ددې شورا د غړو د ترکیب او سابقې له مخې دا جوتیږي چې دا شورا خپله د ستونزې یوه برخه ده نو له همدې کبله یوازې د حکومت د آدرس رول لوبولای شي او د منځګړی نقش نشي ادا کولای. دسولې عالي شورا اوسمهال هڅه کوي چې د حکومت نماینده، منځګړې او جذب کوونکې واوسي، پدې معنی چې په یوه وخت کې درې متضادې دندې پرمخ بیایي. وسلوالو مخالفینو لا له وړاندې دا شورا د


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

منځګړي په توګه رد کړیده. ترهغه چې د سولې عالي شورا ځان ته د منځګړیتوب رول غواړي، دا به پخپله د سولې د راتلو لپاره یو لوی خنډ وي.

- د سولې هرهغه نوښت نتیجه نه ورکوي چې د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب او یا د کومې بلې غیر افغاني دریمې ډلې لخوا راوړاندي شي. په تیرو شلو کلونو او خصوصا د بون په عملیه او ترهغه راوروسته کلونو کی د ملګروملتونو مؤسسې د افغانانو په وړاندي هغه کردار اداء نکړ چې په کار وو. که بیا دوی راوړاندي شی نو ډیر افغانان به دېته دیوې بلې داسې هڅې په سترګه وګوري چې د بهرنیو لخوا د افغانانو د راتلونکي د کنټرولولو په موخه ترسره کیږي. په نتیجه کې به ډیر افغانان او ددوی ګاونډیان په ښکاره یا په پټه ددې ستراتیژۍ پرضد عمل وکړي چې پایله به یې په افغانستان او سیمه کې د نژادي ډلو په وسیله د بالنیابه جنګونو تداوم وي په ځانګړي ډول د هستوي وسلو لرونکو هند او پاکستان ترمنځ.   دا وار په کار ده چې افغانانو ته موقع ورکړه سی او  دوی یې ملاتړ وکړي.

**مونږ لاندې ګامونه پیشنهادوو:**

- دا ضروري ده چې یو شمیرمخور او بیطرفه افغان علماء، قومی مشران، پوهان او مجاهدین د افغانستان د سوله ایز بدلون د ټولنې په ابتکار د افغان حکومت او یا د هغه په نمایندګي د سولې د عالي شورا او طالبانو ترمنځ د منځګړیتوب لپاره یو نوښت ترسره کړي.  اسلامي کنفرانس او د ملګرو ملتونو مؤسسه دي په دغه مسئله کی په اعتماد کی واخیسته شی.

- د وسلوالو مخالفینو لپاره یو افغاني آدرس ( په افغانستان کې دننه) یو عاجل ضرورت دی. د طالبانو لپاره دداسې آدرس رامنځته کول به:

1. دوی ته د مخامخ او شفافو تعاملاتو او بحثونو لپاره یو آزاد چاپیریال او چینل برابر کړي. دا چینل به هغه بیلابیلې هڅې هم یوه چینل ته راولي چې اوسمهال د بیلابیلو چینلونو له لارې د خبرو اترو او مذاکراتو په بڼه جریان لري. دا به پدې کې مرسته وکړي چې دداسې فریب کاریو او جعل مخه هم ونیول شي لکه د ملا اختر محمد منصور کیسه چې یو دوکاندار ځان د طالبانو دویم نمبر مشر معرفي کړی وو او یا د استاد برهان الدین مجهول الهویه قاتل. دا چینل به دیوه منځګړي له لارې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ دموثر تفاهم زمینه مساعده کړي.

2. اوسنۍ خطرناک مبهم او سردرګم حالت به له منځه ولاړ شي. اوس بیلابیلې ډلې په افغانستان کې د تاوتریخوالي پیښې رامنځته کوي او ډیری دا ډول پیښې په طالبانو پورې تړي. ځینې دا ډلې د طالبانو ملګري ندي، مګر د هغوی له نامه څخه دخپلو جرمي او سیاسي اهدافو لپاره سوء استفاده کوي. دطالبانو لپاره د یوه واضح آدرس او نماینده ګې رامنځته کول به دې ډول ګډوډیو ته د پای ټکی کیږدي.

3. د طالبانو ترکنترول لاندې سیمو ته به د عاجلو بشري مرستو په رسولو کې ګټور ثابت شي. د طالبانو ترکنترول او واک لاندې سیمو کې ښوونځي او کلینیکونه تړل شویدي. طالبانو ته د آدرس ورکول، له هغوی سره مذاکرات او ددوی سره تفاهم به ددې سبب شي چې هغوی ددې سیمو خلکو ته ددغو ضروري خدماتو او بشري مرستو رسولو اجازه ورکړي.

4. که طالبانو ته اجازه ورکړل شي چې یو آدرس ولري او مناسبه رویه ورسره وشي، نو دوی به هم ددوی د کړنو په رابطه مسؤل حساب شي او ورڅخه د وضاحت غوښتنه به کیږي.

5. آدرس او له طالبانو سره مخامخ تماس به د نړیوالې ټولنې یو زیات شمیر هغو پوښتنو ته ځوابونه ومومي چې تراوسه ندي ترلاسه شوي، مثلا د ښووني او روزنې، د ښځو دحقوقو، د افراطي ډلو سره د رابطې او نورو په اړه ددوی پالیسي څه ده؟  تر دې مهمه لا دا چې دې پوښتنې ته به هم ځواب ومونډل شي چې طالبان څه ډول افغانستان غواړي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**دا آدرس باید چیرې وي؟**
بهترین انتخاب دادی چې دا آدرس په افغانستان کې دننه خو ترکابل بهر وي. پدې اړه دافغانستان د سوله ایز بدلون ټولنه یو مشخص وړاندیز لري. په افغانستان کې دننه آدرس به طالبانو ته د بیان او تصمیم نیولو ډیره آزادي ورکړي. داکار به دولت او ناټو ته هم دا امتیاز ورکړي چې طالبان کولای شي ددوی ترکنترول لاندې سیمه کې له ویرې پرته خو په ځینو شروطو دهیواد د اساسي قانون، او نورو مقرراتو په منلو سره ژوند وکړي.

- د یوه انتقالي حکومت جوړیدل چې ټول ذیدخل اړخونه په خاص ډول افغان حکومت او طالبان ورباندې توافق ولري. دا به یوه نوي افغان حکومت ته لاره هواره کړي چې د افغانستان د سوله ایز بدلون د ټولني په وړاندیز کې یې تفصیل راغلی دی. ددغه وړاندیز د تطبیق لپاره یو مکانزم ته اړتیاده چې انتقالی دوره په بري سرته ورسوي. امریکا، د ملګروملتونو په پریکړه کولای شي ددغه مکانزم د تطبیق د ضامنانو په ډله کې وی.

- د افغانستان د سوله ایز بدلون ټولنه پدې پوهیږي چې د امریکا متحده آیالات د خپل نظامي ماموریت له پایته رسیدو وروسته هم په افغانستان کی د اوږدې مودې لپاره نظامي حضور غواړي. خو زموږ د طرحي مطابق دلته د امریکا حضور باید د اشغال په شکل نه بلکه د دودیزو سیاسی اړیکو او بهرنیو مرستو په بڼه کی وي چی په هغو کی به دوه اړخیزه سیاسي، اقتصادي او امنیتي همکاری شاملي وي.

- د افغانستان د سوله ایز بدلون ټولني د طرحې په نتیجه کې چې کوم حکومت رامنځته کیږي، هغه به ګاونډیو هیوادونو ته دا اطمینان ورکوي چې ددوي مشروع ګټې به په نظرکې نیول کیږي. خو حرص ته به یې نه پریږدي او افغانستان ددوی د ستراتیژیکې پانګي په توګه نشي کارول کیدای. ملګري ملتونه زموږ د وړاندیز مطابق دغه نوی جوړښت او د ګاونډیو عدم مداخله تضمین کوي.

افغانستان دخپلو ګاونډیو هیوادونو د مداخلو قرباني دی، دا مداخلې پر افغانستان د شوروي اتحاد په حمله پیل شوېدي. بد بختانه د افغانستان ځینې ګاونډیان یوله بل سره رقابت او سیالي لري. لاتراوسه دوی ټول د افغانستان په سوله کې خپلې ګټې نه ویني. په افغاني چارو کې د افغانستان د ګاونډیو مداخلې ددوی ترمنځ په مضرو سیالیو او مخربو رقابتونو بدلې شویدي. د پاکستان داخلي ستونزې مخ په ډیریدو او خرابی رواني دي او د اسامه بن لادن له مړینې وروسته په پاکستان باندې د متحده ایالاتو فشارزیات شویدی. پاکستان شاید ونه توانیږي چې د افغان دولت په وړاندي خپل موجوده خصمانه سیاست ته تر ډیره دوام ورکړي. نړیواله ټولنه ښائي تر ډیره د افغانستان په وړاندې د ایران پر ناوړه چالچلند سترګی پټې نشي کړای. دا روښانه ده چې په نړی کې هیڅ یو هیواد د تروریزم په نوم د متحده ایالاتو د جګړې څخه دومره ګټه نده ترلاسه کړې لکه ایران. د تروریزم سره د جنګ تر پردې لاندی د امریکا او ایران اړیکو، ډیر افغانان او د خلیج هیوادونه له ایران سره د متحده ایالاتو په پټو سازشونو شکمن کړیدي.

افغانان او نړیواله ټولنه تر ابده د هغو کورنیو او بهرنیو ځواکونو په ګرو کې نشي پاتې کیدلای چې په افغانستان کې سوله او ثبات نه غواړي. دا ځواکونه سمې لارې ته راوستل کیدای شي، خو پدې شرط چې د ناټو د پوځونو د وتلو او انتقال لپاره یوه مناسبه ستراتیژي موجوده وي.

په تیرو دیرشو کلونو کې په افغانستان کې د سولې د راوستلو لپاره د یوه مستقل او بې طرفه سازمان په توګه د ملګرو ملتونو د مؤسسې اعتبار ډیر زیانمن شویدی. د بون کنفرانس چې د ملګرو ملتونو لخوا جوړ شو، افغانستان ته یې نه امنیت، نه بیا رغونه او نه ښه حکومتداري راوسته. د ملګرو ملتونو مؤسسه او غرب به ډیر بریالي وي که دا وار افغانانو ته د سولې د نوښت فرصت ورکړي او په افغانستان کې د سولې د راوستلو لپاره د افغانستان د سوله ایز بدلون ټولني د طرحې څخه ملاتړ وکړي.

په افغانستان کې د یوه قوي مرکزي دولت د منځته راتلو لپاره چې له ګاونډیو او نړیوالې ټولنې سره په باور ولاړې اړیکې ولري، وړاندې شوی افغاني نوښت (ابتکار) دافغانستان د ستونزې د حل لپاره ترټولو مناسبه او عملي لاره ده. د افغانستان د سوله ایز بدلون ټولنې ددې ډول یو فورمول او میکانیزم لپاره کار کړیدی.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د لازیاتو معلوماتو لپاره په لاندې پته تماس ونیسی:

| نوم | موقف/دنده | تلفون | بریښنالیک |
|---|---|---|---|
| دکتور فاروق اعظم | د ټولنې مشر | ۰۰۹۳ (۰)۷۰۳۵۵۰۰۸۰ | farouqazam@hotmail.com |
| ډاکټرعبدالواسع قانع | دفرهنګي او مطبوعاتي کميټي سرپرست | ۰۰۹۳ (۰)۷۸۷۱۰۵۹۲۵ | drqani@gmail.com |

بسم الله الرحمن الرحيم

## د افـغـانـسـتـان د اوسني کړکيچ سـياسـي حـل

### سريزه:

دافغانستان جمهور رئيس ( د اساسي قانون د ۶۴ مادې له حکم سره سم) یا د ملګرو ملتونو مؤسسه، یا داسلامي کنفرانس سازمان یا کوم بل بديل واکمن ارګان لویه جرګه راغواړي ترڅو د افغانستان د غميزې د سياسي حل  لپاره ددې وړانديز مطابق لاره هواره کړي.

د بې طرفه، متعهدو او د اعتماد وړ افغانانو یوې ډلې ته موقع ورکړل کيږي ترڅو د منځګړيتوب لپاره د دريمې ډلې په توګه د سولې مرکچي هيئت جوړ کړي. د سولې مرکچي هيئت ددولت او د وسلوالو مخالفينو ترمنځ منځګړيتوب کوي او مستقيمو او بې قيد و شرطه خبرو ته لاره هواروي. داخبرې به په افغانستان کې تلپاتې سوله راوړي او د سيمې او نړۍ ګټې به د افغانانو دګټو سره همږغي کړي.

دافغانستان د سوله ايز بدلون ټولنه دغه لازمه تجربه لري چې د سولې مرکچي هيئت رول په غاړه واخلي. ډاکټرفاروق اعظم چې د دې حرکت مشري په غاړه لري يو پيژندل شوی او د روند افغان دی او د ۱۹۹۳ کلونو په اوږدوکې د جنګي تنظيمونو ترمنځ د منځګړيتوب زياته تجربه لري او د ډيرو افغانانو په ذهن کې دده دهغې ډيپلوماسی هڅې تازه دي چې په افغانستان کې د ثبات لپاره يې د سيمه ايزو طاقتونو د رول په اړه ترسره کړې وې.  د نوموړي هغه هڅه چې په ۱۹۹۸ کې يې د سعودي عربستان او طالبانو ترمنځ منځګړيتوب وکړ پدې دلالت کوي چې نوموړي د منځګړيتوب لپاره بين المللی تجربه هم لري. د ولسمشر حامد کرزي، د سولې د عالي شورا له مشر استاد رباني، د طالبانو او اسلامي حزب له مشرتابه سره د نوموړي وروستی کتنې دا ښيي چې نوموړی ټولو هغو خواوو ته په آسانه وررسيدلای شي چې د افغانستان په قضيه کې دخيل دي. نيدخلو اړخونو ته لاسرسی، د اعتماد او احترام وړسياسی او ټولنيز موقف او د منځګړيتوب د مهارتونو درلودل هغه پانګې دي چې د افغانستان د سوله ايز بدلون ټولنه يې لري او بايد په جنګ ځپلي افغانستان کې د سولې د راوستلو لپاره ترې کار واخيستل شي. دافغانستان د سوله ايز بدلون ټولنه په هيواد کې دننه او له هيواد څخه بهر له زرګونو افغانانو سره تر سلا مشورو وروسته لاندې فورمول جوړ کړيدی ترڅو ټولو خواوو ته د منلو وړ يو جوړښت رامنځته شي او په هغه باندې مذاکره وشي.

دا فورمول د تيرو لسو کلونو لاسته راوړني ساتي، د افغانستان د وسيع او غوڅ  اکثريت د اوس او راتلونکي مشروع ګټې په پام کې نيسي او د سيمه ايزو او نړيوالو طاقتونو مشروع ګټو ته درناوی کوي.  برسيره پر عمومي او مشخصو اهدافو ته په پام سره، لاندې قدمونه پيشنهاديږي:

#### دلويې جرګې د جوړولو لپاره لومړني ګامونه

1. د سولې د هيئت جوړيدل:

د لومړي ګام په توګه، جمهور رييس حامد کرزی يا دده په نيابت د سولې عالي شورا د افغانستان دسوله ايز بدلون له ټولنې څخه غواړي چې د حکومت او د وسلوالو مخالفينو ترمنځ منځګړيتوب وکړي. د افغان حکومت يا د سولې دعالي شورا لخوا دشين چراغ له ترلاسه کولو وروسته، د افغانستان د سوله ايز بدلون ټولنه د سولې يو هيئت جوړوي ترڅو د وسلوالو مخالفينو سره تماس ونيسي او له هغوی څخه هم د وړاندې تګ نښه (شين څراغ) ترلاسه کړي.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## 2. د اعتماد فضاء جوړول:

ددويم گام په توگه، دسولې هيئت د افغان حکومت او دوسلوالو مخالفينو ترمنځ د اعتماد د فضاء د رامنځته کولو لپاره کارکوي او دواړه طرفونه د خبرو د پيلولو لپاره موافقه کوي. داکار پخپله په لاندې اساسي مرحلو کي خلاصه کيږي:

A. د يو او بل په وړاندې هرډول ناوړه پروپگندا پای ته رسول کيږي او منفي الفاظ او حرکتونه د سولې او پخلاينې په الفاظو او حرکتونو بدليږي.

B. د حسن نيت د ښودلو په توگه د افغان حکومت لخوا يوشمير سياسي بنديان خوشي کيږي.

C. د ښه نيت د ښودلو په توگه د وسلوالو مخالفينو د يوشمير مشرانو نومونه له تور ليست څخه ايستل کيږي او هغه جايزې لغوه کيږي چې د هغوی د نيولو يا وژلو په برخه کي د معلوماتود ورکولو په مقابل کي اعلان شويدي.

## 3. د مخامخ خبرو پيل

A. **مستقيمي او بي قيدوشرطه خبرې:** د سولې هيئت په منځگړيتوب د حکومت او وسلوالو مخالفينو د باصلاحيته استازو ترمنځ مستقيمي او بي قيد و شرطه خبرې پيل کيږي.

B. **بين الأفغاني کنفرانس:** ددې خبرو په ترڅ کي ديوه بين الأفغاني کنفرانس د جوړيدو لپاره د دواړو لوريو ترمنځ توافق رامنځته کيږي.

C. **د وسلوالومخالفينو لپاره آدرس:** افغان دولت د سولې د عالي شورى په نوم د خبرو لپاره خپل ادرس لري. اوس، مسلحو مخالفينو ته د ادرس د پيدا کيدو عاجل ضرورت دی. ددغه ادرس تر ټولو ښه ځای د افغانستان په داخل کي (له کابل پرته) د يوې سيمې ټاکل دی. د سولې د عمليې د پرمخ بيولو او د هيواد لپاره د عملي ثبات د لارې د موندلو په منظور کيدای شي يو ولايت (مثلا هيلمند) ددې وړانديز مطابق د سولې د فعاليتونو د مرکزپه توگه غوره شي. ددغه ولايت والي د سولې دهيئت د مشر په وړانديز د دولت د جمهور رئيس لخوا ټاکل کيږي او د افغانستان د اساسي قانون او ددولت د مقرراتو مطابق کار کوي خو پخپل کار کي مستقل دی. افغان دولت، ناټو او مسلح مخالفين تعهد کوي چې په دغه ولايت کي هيڅ ډول نظامي فعاليت نکوي او له دغه ولايت څخه په نورو ولاياتو کي د نظامي فعاليت لپاره کار نه اخلي. دا ولايت د سولې سيمه، د سولې کور او د هيواد لپاره د سولې د راتلو او مذاکراتو مرکز دی. ددولت مامورين او مسلح مخالفين دلته په داډه زړه بيله کوم تهديده غيرمسلح اوسيږي. نړيواله ټولنه په دغه ولايت کي د نوې اداري له لارې د بياودانولو مرسته کوي. دا اداره کارونه اهل ته سپاري او د اداري فساد، نا امنى او د مخدره موادو د توليد مخه نيسي.

## 4. بين الأفغاني کنفرانس:

A. د سولې د هيئت لخوا د اسلامى کنفرانس او ملگرو ملتونو په مرسته د افغانستان د سولې په کور کي يو بين الأفغاني کنفرانس جوړيږي.

B. په بين الأفغاني کنفرانس کي دافغان دولت استازې، د وسلوالو مخالفينو استازې، دمدني ټولني استازې، همدارنگه دافغانستان سوله غوښتونکي سياسي، ټولنيز، مذهبي او معنوي شخصيتونه گډون کوي.

C. بين الأفغاني کنفرانس د لويې جرگې د جوړيدو لپاره نيته، ځای، د هيئتونو او غړيو شمير، څرنگوالى، معيارونه او دهيئتونو د رابللو لپاره ميکانيزم ټاکي.

D. بين الأفغاني کنفرانس د لويې جرگې د جوړولو کميته رامنځته کوي چې دا کميته به د لويې جرگې د راغوښتلو صلاحيت لري.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

E. بین الأفغاني کنفرانس پدې موافقه کوي چې د لويې جرګې ترجوړېدو وړاندې بايد ټول سياسي بنديان خوشې شي او ټول تور ليستونه له منځه ولاړ شي.

F. د اوربند د کميسيون جوړيدل چې دلويې جرګې د جوړيدوپه درشل او پرمهال د افغان حکومت-ناټو او وسلوالو مخالفينو ترمنځ اوربند اعلان، عملی او وڅاري.

لويه جرګه

دلويې جرګې جوړيدل او دهغې فيصلې

G. لويه جرګه د لويې جرګې د کميټې لخوا د افغانستان د سوله ايز بدلون د ټولنې، اسلامي کنفرانس اوملګرو ملتونو په مرسته جوړيږي چې دا به د افغانستان جرګه عملا پای ته ورسوي.

H. په لويه جرګه کی د افغان ولس د ټولو قومی، مذهبی او ټولنيزو پوړونو او همدارنګه د ټولو متخصصو، مطرح او معتنابه سياسی او مدنی ډلو او ټولنو استازي په متناسبه کچه ګډون کوي.

I. لويه جرګه د تلپاتي سولې د راوستلو، د يوه مستقل، با ثباته، متحد او پرمخ تلونکي افغانستان د جوړولو لپاره په اساسي قانون کي لازم تغييرات راولي.

J. لويه جرګه يو باصلاحيته کميسيون تر شا پريږدي چې د اساسي قانون د تفسير چارې ترسره کړي ترڅو د ابهاماتو د رامنځته کيدلو مخنيوی وکړي.

K. لويه جرګه د بهرنيو ځواکونو د وتلو مهالويش او ميکانيزم ټاکي او که د ناټو د عسکرو پرځای د اسلامي کنفرانس د غړيو هيوادونو د ځواکونو راتګ لازم وګڼي پر هغه هم بحث کوي او ميکانيزم ورته جوړوي.

L. لويه جرګه د افغانستان د راتلونکو حياتي مسئلو په اړه تصاميم نيسي لکه راتلونکی افغان ولسمشر، راتلونکی پارلمان، ولايتي او د ولسواليو شوراګاني او ددغو شوراګانو د رامنځته کولو لپاره نيته او ميکانيزم.

M. لويه جرګه د دريو کالو لپاره د يوه لنډمهاله حکومت د جوړيدو په اړه پريکړه کوي او دهغه مشر ټاکي. ددولت برحال رئيس د لويې جرګې په مخکې خپل واک نوي ټاکل سوي مشرته سپاري او هغه پخپل وار اسلام، هيواد او اساسي قانون ته د وفادارۍ لوړه کوي.

N. د لوړې ترمراسمو وروسته، لويه جرګه رخصتيږي او پخپل ځای ممثل پارلمان پريږدي چې له هرولايت څخه به درې تنه استازي يکې برخه ولري (يو مذهبی مشر، يو قومي مشر او يو تکنوکرات). نوی ولسمشر خپله کابينه و ممثل پارلمان ته د منظورۍ لپاره وړاندي کوي.

لنډ مهاله دولت

A. لنډمهاله حکومت د ملي وحدت په روحيه د بي طرفو او متخصصو اشخاصو څخه جوړ دی.

B. لنډمهاله حکومت ائتلافي ندی؛ مشر او غړي يي د کومي ځانګړی افغاني ډلي پورې تړاو نلري؛ د کومي ډلي يا هيواد د ګټو استازيتوب او پالنه نه کوي او د کومي افغاني ډلي يا کوم بهرني هيواد سره دبنمني نه لري.

C. لنډمهاله حکومت د کومي افغاني ډلي يا بهرني هيواد په طرفدارۍ يا مخالفت کار نه کوي، بلکه د افغانستان ملي ګټو ته متعهد دی.

D. لنډمهاله حکومت متعهد دی چې د بهرنيو هيوادونو په چارو کي به مداخله نه کوي او نه به چاته اجازه ورکوي چې دافغانستان خاوره د کوم بل چا پرضد وکاروي. بلکه افغانستان د سيمي او نړۍ په ثبات او پرمختيا کي خپل رغنده رول لوبوي.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

E. ګاونډي هیوادونه تعهد کوي چي د افغانستان په کورنیو چارو کي مداخله نه کوي. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ددي ډول تعهد تضمین کوي او که چیري کوم هیواد له دې تعهد څخه سرغړونه کوي نو ملګري ملتونه وربانديٍ بندیزونه لګوي.

F. افغانستان د یو مستقل هیواد په توګه د نړیوالي ټولني یو فعال غړی دی. نړیواله ټولنه د افغانستان د استقلال درناوی کوي او لنډمهاله حکومت په رسمیت پیژني.

G. لنډمهاله حکومت د افغانستان د پرمختیا او ثبات لپاره پنځکلن پلان جوړوي. نړیواله ټولنه د افغانستان د راتلونکي انکشاف سره تعهد کوي او له دې هیواد سره خپلو اقتصادي مرستو ته ادامه ورکوي.

H. بهرني ځواکونه د منل شوي مهالویش له مخي له افغانستان څخه وزي. ناټو د افغانستان د امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا لپاره خپلو مرستو ته دوام ورکوي. په هرصورت افغان امنیتي ځواکونه د خپل هیواد دفاع او امنیت پخپله غاړه اخلی.

I. لنډمهاله حکومت د اسلامي کنفرانس او ملګرو ملتونو په مرسته هغه شرایط برابروي چي په ترڅ کې یې په بهر کی افغان مهاجرین او په داخل کی بیځایه شوي کورنی خپلو ځایونو ته ستانه شي.

J. لنډمهاله حکومت ټولي درنـي وسلي راټولوي او سپکي وسلي د اجازه لیکونو په وسیله ځینو ته ورپریږدي. ټول هغه وسلوال کسان چي اوس د وسلوالو مخالفینو په لیکو کي جنګیږي افغانستان پریږدي، هغه کسان چي غواړي په افغانستان کي پاتي شي، د افغانستان د قوانینو، د جینیوا د۱۹۵۱ کنوانسیون او نورو نړیوالو قوانینو له مخي چالچلند ورسره کیږي.

K. افغانستان د اسلامی کنفرانس د سازمان غړی دی او ددغه سازمان په مرسته د افغانستان او اسلامي نړۍ د علماوو په ګډون یو کاري ګروپ جوړوي چي لنډمهاله حکومت ته په ځینو حساسو مسایلو لکه د ښځو ښوونه او روزنه، د ښځو حقوق، حجاب، د معاصرو علومو زده کړه، د افغاني کلتور او میراثونو ساتنه او نورو په اړه مشوره ورکړي.

L. لنډمهاله حکومت د اساسی قانون له مفاداتو سره سم او د اسلامي کنفرانس د سازمان او ملګرو ملتونو په مرسته د نوي ولسمشر، پارلمان، ولایتي شوراګانو او د ولسوالیو د شوراګانو لپاره انتخابات ترسره کوي او واک نوی منتخب ولسمشر ته سپاري.

M. لنډمهاله حکومت مشر (ولسمشر)، وزیران، د سترې محکمي لوی قاضیان، او لوی څارنوال نشي کولای په راتلونکي لومړني منتخب حکومت کي د ولسمشر، وزیر، د سترې محکمي د رئیس او لوی څارنوال په توګه کاروکړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ